بسم الله الرحمن الرحيم
إن أريد إلا الإصلاح ما استطعت وما توفيقي إلا بالله .
قل إن صلاتي و نسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين بذلك أمرت وأنا أول المسلمين .
الحمد لله الذي أعزنا بالإسلام والصلاة على سيدنا خير الأنام وعلى آله وصحبه البررة الكرام.

# د واده کولو لپاره ضروري بنسټيزه دين پوهنه

نکاح دنارينه او ښځي تر مېنځ د الله تعالى د مقدس کلام په وسېله يو شرعي تړون دى چي دا تـړون نارېنه او مېرمن يو دبل د ژوند دائمي ملګرى ګرزوي ، دا تړون ديو او بل په ذمه ځيني اضافي حقوق واجب ګرزوي، همداراز دا ميثاق د دوو کورنيو تر مېنځ نوي دخپلوي اړيکي نښلوي چي دې کارته په عامه اصطلاح کي دوستي ويله کېږي . دخپلوي دا نوى سفر که په ړندو رواجونونـه بلکـه پـه اسلامي معيارونو او ځرګندو شرعي اصولوپيل شي لګښتونه به يي کم وي ، ستومانيوي به نلري اوپايلي به يي حتماً خوږې او خوندوري وي او منزل به يي هوسايي ښښونکى وي ان شاء الله تعالى .

خو له بده مرغه داشرعي تړون په دودېز ډول له لومړي ورځي څخه د ناروا اصولو او غير اسلامي کړنلارو اورواجونوله امله غالباً په داسي دښمني واوړي چي دواړه کورنۍ په داسي لانجو کي ونښلوي چي نارينه او مېرمن يي دواړه په اور کي سوځول کېږي ، د طرفينوحقوق پکي پايمال شي ، کورنۍ او قامونه يوله بل سره داسي په بدو اخته شي ، چي خپل او پردي ورباندي چکچکي وهـي ، او بيـايي مرکچيان په جرګو او مرکو باندي ستړي وي .

ددې لپاره چي دا دخپلوي رشته څه ډول جوړه شي بايد په هر پړاو کي يي اسلامي لارښووني په پام کي ونيولي شي له اسراف او تبذير څخه ډډه وشي ، له بېځايه غوښتنو څخه لاس واخېستل شي ، او اسلامي ارزښتونو ته اوليت او أهميت ورکړل شي ترڅو درشتې په کوم طرف ظلم او تجاوز ونشي ، حقدار ته خپل حقوق ورسېږي ، داخپلوي تلپاته او همېشنۍ وګرزوله شي اود بـې مـورده ګيلـو ، شکايتونو او دښمنيو مخه ونيوله شي .

د همدې مقصد لپاره چي ددوو مسلمانو کورنيو تر مېنځ دخپلوي ودانۍ په داسي بنيادونو ودروله شي چي د نارېنه او مېرمني راتلونکى ازدواجي ژوند نېکمرغه شي، دهمدغو دوو خانـدانونو تـر مېـنځ دخپلوي اړيکي دتل لپاره ټينګي پاته شي، يوه لوري ته هم پرېشاني نوي، د طرفينو عزت ، سـرمايه او ناموسونه زيالمن نشي مونږ دخپلو ژونديو تجربو او اسلامي پوهني په رڼا کي دا لاندي کرښي تر هرڅا دمخه دخپل ځان لپاره او بيا دخپلي ټولني لپاره وليکلې ترڅو دهمدغو لارښوونو په رڼا کي هرڅـوک دخپل زوى او لور، خور او ورور لپاره د ودونو چمتو والي ونيسي .

د اسلامي رشتې د جوړولو لپاره ځيني ضروري معلومات چي يو مسلمان رشتې جوړوونکى بايد مخکي

لاورباندې خبر وي په لاندې ډول دي :

# لاربښــــووني

(۱) هڅه وشي چې رشته دتل لپاره په پردي خاندان او قوم کې  ولټوله شي ځکه چې پخپله کورنۍ یا نژدې خپلوانوکې واده کول په نورو ضررونو سربېره غالباً دنسلونو پــه پیدایښــت کــې روغتیــايي نېمګړتیاوې پېښوي او موروثي ناروغیوي را مېنځ ته کوي چې دا هم تجربو جوته کـــړې ده او هـــم روغتیا پوهان او اجتماعي متخصصین ورباندې متفق دي او هم له سلف صالحینو څخه رانقل شـــويو آثارو ورته اشارې کړې دي.

(۲)د رشتې په تلاش کې باید دیني عنصر ته د اولیت مقام ورکړل شي او له داسې ځـــاى او کـــورنۍ څخه ډېره وشي چېرته چې دینداري، له الله تعالی څخه وېره او اسلامي اخلاق ارزښت نلري .

(۳) له هرې هغې کورنۍ څخه یو مسلمان د رشتې د جوړولو په وخت کې باید لېرې واوسي کومه چې په بېدیني ، انسان ځورونې ، ظلم او بد اخلاقې، سودخورې اوحرامخورې سره پېژنـــدلې شـــوې وي دداسې کورنیو که ځوانان وي او که پېغلې له اخلاقي نېمګړتیاوو څخه خالي نه وي او هـــم داراز د اخلاقي بدمرغیو میکروبونه په وینه کې له ځان سره راتلونکیو نسلونو او نوروکورونو ته نقل کوي.

(۴) کومه نجلۍ چې په بېدینه ، بد اخلاقه، حرامخوره اوظالمې کورنۍ کې وغوښتله شي د احادیثو له مخې هغه پخپله وینه کې هماغه عادات او خویونه خپل نسل ته نقل کوي کوم چې یې په پلرګنۍ کې وي چې بیا نه یواځې د والدینو لپاره دنیوي او اخروي بدمرغیوې زېږوي بلکه د ټول خانـــدان لپـــاره پیغورونه او دسر خوږ پیدا کوي . پدې سربېره د همدغې کورنۍ له بدمرغیو او جنجالونو څخه ټـــول ژوند دهوسايي ساه نشي اخېستلاى .

(۵)  عصري تعلیم، پیسه او سرمایه ، هستي او دارایي، غوره نسب او قوم ، حُســـن او ښـــکلا ، مجازي مینه چې دیانت او اخلاق په پام کې ونه نیول شي کله هم درشتو دجوړولو کامیاب معیارونـــه ندي او نه مسلمان باید ورته ارزښت ورکړي ، البته که په بلاى او شتمن عالي نسبه خاندان کـــې د حُسن او ښکلا لرونکې  پوهه، متدینه او با اخلاقه پېغله او یا ځوان چې اسلامي څېره پېغور ونه ګڼـــي وموندل شي دا به ستره نېکمرغي وي او دا ډول رشتې ډېرې لږ موندلې کېږي .

(٦)   د بدل له نکاح څخه چې شغار ورته ویل کېږي تل مسلمان رشتې غوښتونکی بایدځان وساتي ، ځکه چې زیات ترو محدثینو داډول نکاح د احادیثو له مخې حرامه بللې ده ولو که مهر وټاکل شـــي اوکه نه، ځیني فقهاء لکه امام مالک (رح) خو دومره ټینګار کوي چې که نکاح تړلې شوې هـــم وي باید فسخ کړله شي ، او په عین وخت کې یې ژوندیو تجربو زیات ضررونه جوته کړي دي ، اومحققین

علماء يې په نارواوالي باندي متفق دي، کومه خبره چي د يوه مسلمان زړه ورباندي ډاډمن کېږي هغه داده چي د بدل له دوستي څخه تل بايد ډډه وشي .

دوهم داچي په عملي ژوند کي مو دهغو رشتو ترخې تجربې ليدلي دي کومي چي په بدل شوي وي چي ديوه معمولي غلطي او يا تېروتني په وجه دواړه لوري يوله بل سره په جنجالونو اخته وي هغه مېرمنـــي چي يوه دبلي په بدل کي واده شوي وي تل کړولي کېږي او له خوشاله ژوند څخه محرومي وي چي علت يې يوائې همدغه دبدل دوستي وي .

(۷) مهر د الله تعالی له لوري څخه په نارينه باندي دښځي فرض ګرزول شوی حق دی چي دنکاح تړلو په وخت کي ټاکل کېږي او که دنکاح د تړلو په وخت کي ذکر نشي مهر مثل (دودېـــز ولـــور) لازم ګرزي .

(۸) که څه هم مهر کوم ټاکلی حد نلري خو بياهم بايد په دومره اندازه وټاکل شي چي نه يي ادا کول نارينه ته ستومانيوي پېښي کړي او هغه کچکول ګرزولو ته اړ باسي او نه خودومره کم وټاکل شي چي دکمښت له وجهی د ښځي اجتماعي حيثيت وغورځوي ځکه خو شرعي او فقهي مراجعـــودمهر مثـــل (مروج ولور) يادونه کړي ده ، خو که مهر زيات ټاکل شوی هم وي بايد د نارينه دېوسي په حالـــت کي دواده د تاخير لپاره بهانه ونه ګرزول شي .

(۹) مهر د طرفينو دتوافق په صورت کي دوه ډولونه لري (۱) تلېوروني مهر چي د واده له ورځي څخه مخکي نجلۍ ته سپارل کېږي (۲) ځنډنی مهر چي له واده څخه وروسته کله چي يـــي نجلـــۍ غوښتنه وکړي بايد ورته وسپارل شي ، او دا درشتې په اطرافو پوري اړه لري چي کـــوم ډول مهـــر ټاکي .

(۱۰) له لوېو او زامنو سره دهغوی دودونو په هکله مشوره کول دشريعت له مخي دهغوی حق دی داځکه چي دا دهغوی دژوند پرېکړه ده ، هري نجلۍ او ځوان ته بايد بشپړ واک ورکړل شـــي چـــي هغوی خپل د ژوند ملګری خوښ کړي که له شرعي، اخلاقي، نسبي او ديني نګاه څخه قريبان يا مور او پلار د هغوی په انتخاب کومه نيوکه لري هغه بايد هغوی ته روښانه کړي ترڅو دقناعت له مخـــي ورڅخه مخ واړوي، که والدين دهغوی لپاره کومه رشته خوښوي هم بايد په مشوره کي يې شامل کړي او ټول جوانب يې ورته روښانه کړي که هغوی يې له منلو څخه انکار وکړي والدين يې بايد مجبوره نکړي ځکه چي هغوی شرعا د انکار حق لري .

(۱۱) دنجلۍ مور ددې حق لري چي د نجلۍ پلار د هغې دلور په ورکولو کي ورسره مشوره وکړي او که يې ونکړي دګناه مرتکب دی او درسول الله صلی الله عليه وسلم دحُکم مخالفت يې کړی دی

(۱۲) رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله وروستۍ بيانيه کي چي د حجة الوداع په ورځ يې خپلو

اصحابوته واوروله څو څو ځلي په تکرار سره پدې ټینګار وکړ چي دخپلو مېرمنو په هکله له الله تعالی څخه ووېرېږئ، له هغوی سره په ښو اخلاقو ژوند کوئ، هغوی مه ځوروئ او خیر یې غواړئ همدا راز یې په بل حدیث شریف کي مېرمني دښېښو په نوم سره یادي کړي دي چي په نرمي ورســـره چلنـــد کوئ. مېرمني هم د نارینه وو غوندي دغوښي نازک زړونه لري چي بې کومه شرعي عذره یې ورانول او خپه کول ستر جرم دی .

(۱۳) دمېرمنو حقوق زیات دي چي ما پخپل کتاب د نېکمرغۍ پیغام کي ذکر کړي او دلته یـــې تفصیل نشي بیانېدلای البته له مېرمنو سره په کارونو کي مشوره کول سنت دی ، مېرمني (د مېړونو په اجازه) له ټولو هغو نعمتونو او وسائلو څخه داستفادې کولو حق لري کوم چي نارینه ته روا وي، پـــه هغوی باندي غیر شرعي بندېزونه لګول ، بېځایه غوښتني ورباندي تپل ، هغېې ته د نوکري ، خادمي، چپړاسي او یاپه اصطلاح دمېنځي په سترګه کتل ، دپلرګنۍ له لیدلو څخه بې شرعي موجبـــه دهغـــې اېسارول داټول داسي دنه ښېښلو وړ ستر ظلمونه دی چي انجام به یې دنورو ظالمـــانو د کړنوغونـــدي تباهي زېږوونکی وي .

سورة المجادله په قرآنکریم کي دهغې سورې نوم دی کومه چي دیوې مظلومي مېرمني خولة بنت ثعلبة په هغه شکایت چي الله تعالی ته یې فریاد کاوه پیل شوي ده ویل کېږي چي عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه له یوې ډلي اصحابو سره په سفر روان وو یوه بوډۍ یې په لار کي ولیدله له سورلۍ څخه ورته راکوز شو او دهغې دحال پوښتنه یې وکړه او د اوږده وخت لپاره ټول ملګري ورته انتظار وو دهغې بشپړي خبري یې واورېدلې او بیا ورڅخه خپلو ملګریو ته راستون شو ملګرو یې په غصه کي ورته وویل چي مونږ درته له انتظاره مړه شوو او په مخکي مو اوږد سفر هم دی اتاسو له دې بوډۍ سره دومره وخت ضایع کړ؟ هغه ورته وویل چي دا هماغه بوډۍ وه دچا فریاد چي الله تعالی له اوو آسمانونو دپاسه آورېدلی وو نو ما څرنګه کولای شوای هغه پداسي حال کي پرېږدم چي دزړه براس یې نوي اېستلی ځکه خو دا باید له یاده ونه باسو چي دمظلومي مېرمني چېغه الله تعالی آوري .

## هودېپـــــــانه

(۱) نکاح په حقیقت کي د دوو جوړو (نارینه او مېرمني) ترمېنځ د مشترک ژوند کولو یو شـــرعي تړون دی چي نارینه او ښځېنه د قضیې اساسي اړخونه ګرزوي خو چي اقرباء او یا والدین یې چـــاري پرمخ بیایي هغوی یې له زوم او نجلۍ څخه وکالتاً او نیابتاً سرته رسوي .

(۲) کوم مهر چي په نکاح کي یاد کړل شوی وي هغه ټول دښځي حق دی چـــي هېڅوک پکـــي د لاسوهني او تصرف کولو حق نشته، پدې معنا چي نه خو یې پلار او یا ورور او یا کوم بـــل قریـــب دخپلو، دوستانو ته دوربښلو، په هغه باندي دمېلمنو لپاره د مېلمستیاوو دکولواودهغوی لپاره دتحفو

د اخېستلو او ورکولو حق لري او نه يي مېره او دهغه پلارګنې ته دخوړلو، يا د پرېښودلو د غوښتني او يا له ښځي څخه د بېرته وړلوحق شته .

(۳) له نکاح ترړلو څخه وروسته بيا د ژوند تر پايه پوري د ښځي نفقه او جامه او نور لګښتونه لکه دعلاج او معالجې او داسي نور دهغې په نارينه باندي واجب دي چي بايد ورته ورپې کړي خواه که ښځه د پلار په کور کي وي او که دمېړه په کور کي وي او خواه که ښځه شتمنه وي او که نېستمنه وي او خواه که يي نارينه بډای وي او که مسکين وي خو مصارف يي د خپل نارينه (مېړه) په ذمه باندي واجب دي او په ښځه يا دهغې په پلرګنی ددې حق نلري چي هغوی خپله شتمني ولګوي .

( ۴) د کوژدې له لومړۍ ورځي څخه نيولي چي نکاح وتړله شي بيا دواده تر ورځي پوري ټول هغه دودونه چي په پښتنې ټولني کي رواج لري لکه کوزباني ، پښارتي، ، لاس سره، نکرېزي، اوداسي نور مناسبتونه که هرنوم ولري چي درانه لګښتونه پکي ترسره کېږي په اسلامي شريعت کي هېڅ اساس نلري چي يو مسلمان يي بايد پدې وجه هم مراعات نکړي چي د اسراف په زمره کي راځي . او ددې ډول دودونو پاللو ته په شريعت کي بدعات الرسوم ويل کېږي چي اسلامي شريعت يي نه خوښوي ، ځکه خو بايدازدواجي رشته په يوه داسي ساده ناستي پيل شي چي نکاح پکي وتړلي شي او يو بل ته دمبارکي لاسونه ورکړي او دوهمه ناستي د وليمې په ډوډۍ چي له واده کولو څخه مخته او يا وروسته وي پايته ورسېږي البته ددوستي په دوران کي درشته دارانو تر مېنځ په غير دودېزو مېلمستياوو او دعوتونو کومه شرعي پابندي نشته .

(۵) دخوشاليو دا ډول مناسبتونه د مسلمان لپاره الهي نعمتونه او دشکر ګذاري مقامونه دي چي هغه يي بايد پداسي شکل ولمانځي چي د الله تعالی رضا او د هغه حُکمونه او نبوي لارښووني او دسلف صالحينو عملي تګلاري پکي ملحوظ وي ، په ودونو او کوژدو کي نجونو او ښځينه وو ته د رواياتو له مخي پداسي شکل دسندرو دويلو جواز شته چي په پرده کي وي ، دپرديو نارينه وو ګډون پکي نه وي، په لارو کوڅو او بازارونواو موټرونو کي نه وي، بې حيايي او دموسيقي آلات پکي نه وي ، خوهغه څه چي په موجوده شکل نن سبا په ودونو کي ليدل او آورېدل کېږي لکه د ډُمانو (هنرمندانو) راغوښتل، او يا دښځينه وو په مېنځ کي دنارينه ډم ډول وهل، په موټرونو او کوڅو کي دښځينه وو اتڼونه او سندري ويل چي پردي نارينه يي ننداري کوي بې شکه داسلامي شريعت له نظره حرام عمل دی ، مسلمان رشتې جوړوونکی بايد تل ځان ورڅخه وساتي ، اوڅوک چي يوه داسي محفل ته دعوت کړل شي چي هلته دامنکرات وجود لري اجابت به يي نکوي او که په ناخبري کي ګډون پکي وکړي خوچي کله يي داسي منکرات وليدل بايد مخنيوی يي وکړي او يا يي سمدلاسه پرېږدي .

(٦) کوم سوغاتونه چي يو لوری يي بل لوري ته د رشتې په دوران کي او يا داخترونو په ورځو او يا نورو مناسبتونو کي ورکوي لازمي او ضروري نه دي اومقابل لوری پدې ملزم او تړلی نه دی چي

همدغه ډول تحفې او یا تر هغو غوره ورته ورکړي، او دغوښتل شوي نجلۍ لپاره جامې او سوغاتونه له دې څخه ځکه مستثنا دي چې هغه حق لري اودنفقې په زمره کي راځي .

(۷) هغه مېلمستیاوي چې خپلوان یې یوله بل څخه غوښتنه کوي او یایې په وچ زور یوپه بل باندي تپي او که یې ونکړي په بدو نومونو یې بولي او خپګان ځیني جوړېږي، بیا په همدغو مېلمستیاوو کي ډلي ډلي ځوانان ، پیغلي او مېرمني برخه آخلي که ترهرنامه او هره پرده لاندي وي غیر اسلامي عمل دی چې انجام یې له ګېلو او پرېشانیو څخه پرته بل څه نوي پرېښوول یې پدې اساس ضروري ده چې له مالي تاوانه، له ذهني پرېشاني او له جسماني ستوماني څخه پرته بله ګټه نلري .

(۸) ټکري اچول او یاغوښتل، لونګۍ ، پګړۍ جامې اونور شیان نارینه وو ته قمیصــونه ، جـــولۍ ، بنارسونه او نور .... ښځینه ووته ورکول او یاغوښتل او په همدغو مناسبتونو کي ددرنو لګښتونو کول ډول ډول خواړه برابرول کوم چې زمونږ په رواج کي یې ځای نیولی دی حرام او ناروا عمـــل دی، بلهایان که یې کوي وس به یې لري خو دغریب سړي لپاره ډېر ځوروونکی عمل دی ځکه خو یې پالل حرام او ناروا دی او پرېښوول یې په هردین دوسته مسلمان باندي لازمي دی .

(۹) کوم لګښتونه چې د زوم له پلرګنۍ څخه د واده دورځي لپاره غوښتل کېږي لکه نغدي روپۍ اویا وربځي ، غوړي، اوړه ، غوښې یا پوسونه، بوره ، چای او مسالې وغیره دا یو ډول ناحق ظلم دی، چې پرېښوول یې لازمي او داسلامي شریعت غوښتنه ده، که د ښځي پلارګنۍ په خپل لګښت سره ورا والو ته ډوډۍ ورکړي څه ستونزه پکي نشته او که یې توان ونلري هېڅ د هم نه ورکوي، البته که د نارینه پلارګنۍ پخپله خوښه د واده د ډوډۍ لګښت د نجلۍ په کور کي کوي او یا هلته ولیمه جوړوي څه ممانعت پکي نشته بلکه ولیمه ورکول که هرچېرته وي یو مسنون کار دی .

(۱۰) نجلۍ او د یا دزوم پلارګنۍ د نجلۍ په پلار دا حق نلري چې نجلۍ ته کور او د کور ضروري سامان آلات پخپله شتمنۍ کي واخلي ، بلکه سرچپه د ښځي پخپل نارینه باندي داحق دی چې کور او دهغه لوازم خپلي مېرمني ته تهیه کړي، البته که د نجلۍ پلرګنۍ پخپله خوښه هغې ته څه آخلي او یـــا نجلۍ پخپله شتمني او یا ولورکي ځان ته د کور سامان آخلي څه پروا نلري، او که دنجلۍ پلرګنـــۍ بېوسه وي اونجلۍ هم خپل ولور نه لګوي او له خپل نارینه څخه د کور اود هغه د لوازمو د تهیه کولو غوښتنه وکړي دا دهغې شرعي حق دی چې نارینه یې باید له خپل قدرت سره سم ورته چمتوکړي .

(۱۱) لورته دفسق آلات لکه تلوېزیون، ټایپ، وي سي آر چې غالبا یې استعمال په ګناه کي کېږي په واده کي د پلرګنۍ له خوا ورکول مطلق نا روا کار دی چې مسلمان یې باید ونکړي همدا راز دډېري لوړي بیې پالنګونه او بسترې او یا داسي نور شیان چې داسراف په زمره کي راځي صرف دنېکنامي او فخر لپاره ورکول هم نار وا عمل دی چې الله تعالی د مال بېځایه لبګښت نه خوښوي ددې په ځای غوره ټګلاره داده که دنجلۍ پلرګنۍ بلهایه وي او زوم یې لوېدلی وي همدغه لګښت دنغدي لور ته

ورکړي تر یوڅو ورځي دبل له اړتیا خلاص شي او یابې نارینه کوم روز ګار ورباندي روان کړي .
اوکه دا لګښت دنجلۍ له ولور څخه پلرګنۍ کوي نو هم دي له الله تعالی څخه ووېرېږي ځکه چي دنجلۍ ولور د پلرګنۍ په لاس کي دهغې امانت دي چي باید تریوه وخته پوري یې ورته وساتي کېداې شي کله یې بنیادي ضرورت ورته پیدا شي .

(۱۲) نجلۍ ته د واده په وخت کي کي دهغې په ولور یوازي دهغو لوازمو اخېستل ضروري ده چي هغه یې غوښتنه کوي او یا داسي شیان وي چي په نوي کورکي دهغي بنیادي اړتیاوي پوره کړي دنجلۍ په غوښتنه هم باید یوازي هغه شیان دهغې لپاره واخېستل شي چي یو مسلمان قریب یې اړېن او حتمي وبولي نه داچي هغه څه غواړي او دی یې ورته آخلي داځکه چي دا امانت پداسي توګه لګول فــرض دی چي نه خو بېځایه ولګېږي اونه پلرګنۍ پکي دګناه مرتکبه شي .

(۱۳) کوم جنس سامان او یا نغدي روپۍ او یا سره او سپین چي نجلۍ یې له خپل ځان سره د واده په وخت کي د خپل نارینه کورته وړي خواه که هغې په خپلو روپو اخېستي وي او یا که یې پلار ورتــه ورکړی وي او یا یې نارینه او دهغه پلرګنې په سوغاتونو کي ورته راوړی وي دا دهغې ذاتي ملکیــت دی چي پلار ،مور، ورور، مېړه ، خواښیه ، خوسر او لېور او نور خپلوان پکي د هېڅ ډول تصــرف کولو او د هغې له اجازت څخه پرته د وراخېستلو حق نلري .

که خواښیه او خوسر د زوم جېبونه تلاشي کوي دهغه بکس او یابټوه پلټي او یا بې اجازې شیان ځیني ورآخلي آیا دا به څوک ښه وګڼي؟ نجلۍ هم ورته شان یوه مکرم انســان ده چــي دا ډول ســلوک هېڅکله هم نه خوښوي او که یې څوک صندوق او بکسې تلاشي کوي یا دهغې په شیانو کــي بــې اجازې تصرف کوي نو جُرم یې هماغه خوسر او خواښیه ته ورته ده څوک چي له زوم ســره ورتــه سلوک کوي

(۱۴) دواده په دربیمه چي دزوم پلرګنۍ دنجلۍ پلرګنۍ ته مېلمستیا کوي او هغوی یوه ډله کســان نارینه او ښځي له ځان سره بیایي او هلته بیا نغدي روپۍ او یا نور اجناس دټکري په نوم اچوي دشریعت خلاف عمل دی، ددې په ځای غوره تګلاره داده چي کوم شی چي پلار یې خپلي لور ته ورکوي پخپل کور کي یې درخصتي په وخت کي باید ورته وسپاري که دهغې دمهر یوه برخه وي او که له خپل ځان څخه کومه تحفه وي او دواده په دربیمه ورځ زوم او دهغه پلرګنۍ ته چي تازه یې دهوســایي ســاه اخېستي وي نور زیات ځور ورنکړي .

(۱۵) له واده څخه وروسته یو بل مناسبت وي چي نوم یې سرواره دی درواج له مخي پدې مناسبت کي پلارګنۍ مجبوره وي چي لور خپل کورته د یسوهې ټاکلي نېټي لپاره بوزي او بیا هلته د تللو پــه وخت کي یوه لوړ بیه تحفه ورکړي دا هم دشریعت له مخي کوم اساس نلري او نه پلار مکلــف دی چي هرو مرو به لور ته سوغات ورکوي تحفه ورکول که څه هم بخپل ذات کي یوستایلی کار دی خو

پدې وخت کې ددې لپاره چې رواج ونه پالل شي باید لورته هېڅ تحفه ورنکـــړي ترڅـــو مجبـــورو پلارګنیو ته پېتی دروند نکړل شي.

(١٦) ښځه پخپل نارینه باندې د ښې ګوذارې کولو او حُسن معاشرت حق لري نارینه خپله مېـــرمن یوازې هغه وخت ترټلای او وهلای شي چې دیوه شرعي جرم مرتکبه شي لکه بې نمـــازي ، بـــې حجابي ، د خاوند په کور،مال اوځان کې بې اجازې تصرف ، له کور څخه دخپل نارینه بې اجازې وتل او نور شرعي منکرات چې په ابتداء کې به یې پوهوي اوترټي او که ونه مني پداسي شکل یې وهلای شي چې کوم ښکاره عیب پکې جوړ نکړي ،خوسر او خواښیه نه خو پخپله نږور د خدمت کولو حق لري او نه وربانديې د خپلو غوښتنو او د دودېزو عادتونو دتپلو حق لري . یواځې مېړه پخپله مېرمن او مېرمنه پخپل نارینه باندې متقابل حقوق لري چې یو هم باید تقصیر پکې ونکړي

(١٧) دهغو کورنیو افرادچې د همدې رشتې په وسیله یو د بل خپلوان جوړ بېږي نارینه یې باید له نارینه وو سره او مېرمني یې باید له مېرمنو سره اړیکې وساتي دیوې کورنۍ دنارینه وو د بلې کـــورنۍ لـــه مېرمنو سره (دخواښیه ، خوسر، نږوراوخپلې مېرمني په استثناء) د لاس روغبړونه او مجلسونه کـــه سابقه حُرمت موجودنه وي یوازې د همدې نوي دوستي په اساس شـــرعاً جـــواز نلـــري، همـــداراز دخوښینو او درشته دارانو دکورنیو د نورو مېرمنو او پېغلو د لاس روغبړونه او دتنهایي مجلســـونه او سفرونه له زوم سره او دورېنداري له لېورسره د اسلامي شریعت له نظره حرام او ناروا عمل دی چې مسلمان رشتې جوړوونکي باید تل ورڅخه ډډه وکړي .

(١٨) د اسلامي شریعت له مخې ښځه باید له غیر محارمو نارینه بالغینو څخه پرده وکړي لکه دخور مېړه دمېړه ورور ، دتره زوی د ترور زوی او داسي نور چې مونږ یې په دودېز ډول خپلوان ګڼو ښځه باید له خپل نارینه خواښیه او خوسر د مېړه له خوېندو او نورو مېرمنو څخه که تر واده دمخه وي اوکه وروسته مخ پټ نکړي او پرده ورڅخه ونکړي د هغوی په وړاندې لوڅ مخ او لوڅ سر ګرزېدلای او کېناستلای شي ، آزاد مجلس او خبرې کولای شي . خو زمونږ په دود او رواج کې نږور بایـــد لـــه خواښیه او خوسر څخه مخ پټ کړي ځیني خو یې له مېړه څخه هم لا مخونه پټوي، خو له لېور او دتره له زویه یا له اوښې (دخور له مېړه) سره له یوه ځایه بل ځای ته یا له یوه هېواده بل هېواد ته ســـفرونه آزاد ګپ شپ ، تودې خبرې او مجلسونه کوي چې په څلورو مذهبونو ناروا عمل دی .

(١٩) ددې خبرې جوته کول ضروري ده چې محارم له هغو نارینه وو او ښځېنه وو څخه عبارت دي کوم چې دتل لپاره داسلامي شریعت له مخې ورسره واده کول حرام ګرزول شوي وي لکه پلار، مور، ورور، وراره، وربره، خور، خوریې، خورزه، ماما ، خاله، تره، ترور، د مېړه زامن او لوڼې، رضـــاعي ورونه، رضاعي خوېندي، مقصد داچې نکاح ورسره کول نه وي روا ، له دې څخه پرته نور ټول نارینه اوښځېنه یو له بل څخه دشریعت له مخې پردي دي، پرده کول ورڅخه فرض ده ، په تنهایي کې خبري

کول ، مجلسونه کول، ګپ شپ، سفر کول په لاس ورسره روغبړ کول مطلقا ناروا او حرام کار دی. لېورونه او ورېندار ګاني، اوښيان، او خوښيني د ترونو او تروړانو زامن او لوڼي دماماګانو او خاله ګانو زامن او لوڼي چي مراهقين يا بالغين وي دپرديو په جمله کي رازي ځکه چي په نکاح کولو کـــي يـــې حُرمت نشته.

(۲۰) کله چي نکاح وتړله شي له هماغه شېبې څخه زوم ددې حق لري چي له خپلي مېرمنـــي ســـره ووينې، مجلس ورسره وکړي يو دبل په مزاج او عادتونو ځانونه خبر کړي او ګټه هم پدې کي ده چي له واده څخه مخکي دواړه يوله بل سره وپېژني ښه به دا وي چي کله مهر بشپړ ادا کړل شي تر واده يوه مياشت مخکي زوم ته اجازه ورکړه شي چي له نجلي سره دپلار په کور کي ووينې که ممکنه وي او دځاى تنګي نه وي هلته شپې وکړي او شرعا پدې باندي کومه پابندي نشته دبېځايه غيرت په اساس بايد زوم او نجلۍ له همدغه مشروع حق څخه چي دهغوى په نوي ژوند کی طلايي چانس ګڼل کېږي محروم نکړل شي .

(۲۱) داهم بايد له پامه ونه غورځوو چي کله نجلۍ دپلار کورته بېوله کېږي نو لـــه خوابنـــيه او خوسر څخه يې اجازه غوښتله کېږي او هغوی د شپو نېټه ورته ټاکي چي داسلامي شريعت له مخي دا صرف دمېړه حق دی چي خپله مېرمن پرېږدي اوکه نه او دڅومره شپو لپاره. خوابنيه او خوسر صرف پخپلو اولادونو حقوق لري په زوم او نږور دشريعت له مخي هېڅ ډول ټاکل شوي حقوق نلري البتـــه زوم دخپلي مېرمني او مېرمن د خپل نارينه په خاطر چي يو دبل والدين دي او دوی دهغوی اولادونه دی ورسره دښې ګوزارې کولو او دهغوی خدمت کول او دقدر په سترګه ورته کتل د نارينه او مېرمني دواړو لپاره د الله تعالی په وړاندي اجر لري خو هغوی يې په ځينو خاصو غوښتنو دمجبوره کولو حـــق نلري .

(۲۲) په پښتني دودونو کي پلرګنۍ مجبوره وي چي پخپله لور پسي لاړ شي او بيا دلور خوسرګنۍ ته عاجزي کوي چي خپله لور د هغوی لخوا دټاکل شوي نېټي لپاره ورســـره پرېـــږدي او دا ديـــوې مسلماني کورنۍ لپاره ستر توهين دی (چي وايي اوس خو دلاس را لاندي دی) په اصل کـــي مېـــرمن پخپل نارينه دا حق لري چي هغه يې دخپلو خپلوانو کوروتوته چېرته چي شريعت ورباندي نيوکه نلري او هغه يې غوښتنه کوي بايد پخپل لګښت ورسوي او بيا يې بېرته خپل کور ته بوزني دهغې دپلرګنـــۍ پداسي غوښتنو مجبوره کول غير شرعی عمل دی اوکه يې پلرګنۍ پخپله خوښه بيايی او ورپسي راشي دنجلۍ خوسرګنۍ يې بايد پلرګنۍ په سپکو خبرو توهين نکړي .

(۲۳) کله چي د يوې کورنۍ څوک په حق ورسېږي هغه بله کورنۍ د رواج له مخي مکلفه ده که له کوره وي او که له پوره يو ښه پوسه بايد له ځان سره ديوې ډلي کسانو په ملګرتيا دمتوفی کورتـــه بوزني او هلته يې حلال کړي چي دا هم يو رواجي کار دی او پالل يې ځکه ناروا دی چي په شريعت

كي اساس نلري غوره تګلاره داده چي دتعزيت لپاره بې پوسه ولاړشي بيا که وس ولري پوسه په مرده پسي پخپل کور کي خيرات کړي او اوم يې په غريبانو وويشي ياپې پوخ کړي ګاونډيان ، غريبان او دوستان هم را دعوت کړي او که يې ونکړي نو هيڅ پروا نلري هر سړی پخپل وس نيولی دی .

(٢۴) پښتانه وايي لوښي چي ډېر شي غړ يې پورته کېږي ، دا لائحه دټولو ستونزو مخه نه نيسي کېدای شي درشتې په دوران کي له واده څخه مخکي او يا وروسته ځيني داسي لانجې راسربېره شي چي خپګانونه او بد وزېږوي پدې صورت کي بايد دروغي جوړي او دلانجې او ستونزي دحل لپاره يوه داسي منل شوي ديني عالم ته چي هم بشپړه شرعي پوهنه ولري او هم ټولنېزي ستونزي هوارولی شي دواړه لوري واک ورکړي او چي دشريعت له مخي هغه هرڅه پرېکړه ور وکړي بايد دواړه لوري يې دسر په سترګو ومنی .

د مسلمان لپاره هر مناسبت يوه آزموينه او درېښتوني ايمان امتحان وي ، مسلمان هغه وخت رېښتونی او واقعي مسمان جوړېدلای شي چي فاسد چاپېريال او غير اسلامي دودپالنه او ذاتي ګټي يې دحرامو او يا منکراتو ارتکاب ته وروغواړي خو هغه ځان ورڅخه وساتي ، که مونږ پخپل ځان ، کور، کلي، اوټولنه کي د غير اسلامي دودونو، مروجو ظلمونو، اودښځينه وو دحقوقو دخوړلو او تلف کولو، او دنورو محرماتو د له مينځه وړلو په وړاندي له جهاد کولو څخه بېوسه يوبيا به مود مسلماني دعوا او دالهي نصرت تمنا بېځايه وي ځکه چي الله تعالی دظالمانو مرسته نکوي .

رواجونه پالل ، او درواج او دودپالني په پلمه دمحرماتو او منکراتو مرتکب کېدل کوم حجت ندی ، که سود کول ، د يتيم مال او حقوق غصبول، ظلم او تېری کول حرام وي نو دښځينه مهر او ولور خوړل دظلم بد ترين شکل دی ، ځکه چي قرآني آيتونه ، نبوي احاديث ، فقهي نصوص، او دسلف صالحينو کردار ټول پدې متفق دي چي مهر دښځي حق دی هغې ته به ورکول کېږي اوهيڅوک پکي دتصرف کولو حق نلري ، بل داچي دا په ښځه ظلم دی په ښځو کي بيا پخپله لور او ياخور او يا مېرمن باندي چي هيڅ غيرت من انسان يې نه خوښوي او نه يې روغ ضمېر اجازت ورکوي ، او الله تعالی به ضرور ددې هرڅه سخته پوښتنه، ګروېږنه او محاسبه کوي .

دا په لنډ ډول ځيني هغه اساسي ديني معلومات وو چي مسلمان والدين او د ښځو او نارينه وو أقرباء او أولياء الأمور بايد د خپلوي او رشتې له جوړولو څخه مخکي ورباندي خبر وي ، هم داراز که يو څوک درشتې دجوړولو په وخت کي دا نکات په مخلصانه نيت سره په پام کي ونيسي ، حق به يې حقدار ته رسولی وي او الله تعالی به ورڅخه راضي وي او په کوم کار کي چي د الله تعالی رضا شامله وي د هغه کار نتايج تسلي ببنونکي وي ، زړونه ورباندي ډاډمن وي او همېشنی نېکمرغي تضمين کوي، او که يومسلمان په مختلفو پلمو(لکه چي وايي له جهانه ووزه خو له نرخه يې مه وزه) اسلامي ارزښتونه شاته غورځوي او يا خپله لاس تنګي او ضرورتونه او يامروج دودونه بهانه ګرزوي په الله

تعالی به يي دروزي رسان او کارساز عقيده کمزوري وي، اسلامي معيارونه به ورته ارزښــت نلــري ولوکه درېښتوني مسلماني دعوا کوي خو الله تعالی به ورڅخه ناراض وي ، اوکله به يي هــم هغــه خوشالي چي مسلمان يي په دنيوي او اخروي ژوند کي تمه لري په برخه نشي .

نوراخې چي سر له نن څخه همدغو باطلو دودونو ته چي زمونږ دخوندو او لونو ژوند يي تريخ کړی دی ، دنارينه وو يي ملاوي ماتي کړي دي، دکورنيو ترمنځ يي ددښمنيو تخمونه شيندلي دي او ټولنه دفساد په لوري بيايي دپای ټکی کېږدو، دا اصلاحي عمل او مطلوب جهاد له خپلو ځــانونواوکورونو څخه پيل کړو ، د هرقام او قبيلي دسپين ږيريو ، مشرانو، مصلحينو او علماوو فريضه ده چي د ناروا دودونو په کلکه مخه ونيسي او په پالونکيو يي تعزيري نغدي درني جرماني ولګــوي او ذکرشــوی اسلامي تګلاري ته عملي بڼه ورکړي ترڅو له يوې خوا د الله تعالی رضا لاس ته راوړله شي او له بلي خوا هغه ټولنېزي بدمرغيوي او فسادله مېنځه يوسي کوم چي يي دا تېل شوي باطل رسمونه په برکــي لري په عين وخت کي به زمونږ دځوانانو او پيغلوهم دژوند په پسرلي کي مشروعي هيلي او آرمانونه پوره شي .

زه ديوه مسلمان په صفت په ذکر شوي تګلاري عقيده لرم او له ځان سره مي هوډ کړی دی چي زما رشتي جوړوني به ټولي إن شاء الله تعالی د ذکرشويو معيارونو په اساس بناء وي اوچي څوک په ذکر شويو اصولو راسره هم نظره او متعهد وي او په شرعي معيارونو برابر وي هغوی سره به درشتي دجوړولو په صورت کي دا لائحه ټکي په ټکي هم پخپله عملي کوم او هم مقابل لوری وربانديي ملزم او هوډمن ګنم.

اللهم أرنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وأرنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه وصل اللهم وبارك على سيدنا محمد وآله وصحبه وسلم تسليما كثيرا وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين والسلام على من اتبع الهدى

يکشنبه ، **09**، رجب المرجب، **1431** مطابق **20**، جون، **2010**

أبوخليل محمد عبدالرحمن قدوسی
دبرېښناليک پته
al_quddusi@yahoo.com
ويب پاڼه
www.onlinepaigham.com

نن ورځ ........................................................ مونږ هريو

.......................... د.................................. ځوی

چي پدې رشته کي د ............................ ............ په صفت حاضر يم

او زه ......................... د............................... ځوی

چي پدې رشته کي د ............................................. په صفت حاضر يم

د لاندنيو ذکر شويو ګواهانو په حضور کي پخپل لاسليک او بشپړو حواسو سره لـــه الله تعالی اوحاضرينو سره هوډ کوو چي پورتنۍ لائحه مو بشپړه ولوستله او په ټولو موادو يې پوه شوو اودا هرڅه مو دسر په سترګو منلي دي. هېڅ ډول تخلف او سرغړونه بـــه نـــه ورڅخه کوو . نه خوبه په رشته کي ذکر شوي رواجونه پالو او نه به يې غوښتنه کوو کـــه الله تعالی مکړه هر يوسرغړونه وکړو الله تعالی ته، قوم ته او خپلي ټولني ته به ملامـــت او شرمنده يو او هم به د هرډول جرماني منلوته چي دربيمان او مشران يې وټاکي چمتو يو.

والله علی مانقول وکيل .

(۱) نوم ..........................

لاسليک کوونکی

په دې رشته کي د ........... د ...... په صفت

(۲) نوم ..........................

لاسليک کوونکی

په دې رشته کي د ........... د ...... په صفت

(۱) ګواه.......................... لاسليک (۲) ګواه.......................... لاسليک

(۳) ګواه .......................... لاسليک (۴) ګواه.......................... لاسليک

(۵) نکاح ويونکی ............................ لاسليک

**دقومي تړون دمشر**
**لاسليک او مهر**